د رسول الله ﷺ خوراک

ژباړه: ابو جحیفه رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

خو، زه په متکئ (تيک وهلی/ تکبر يا راحت ناست) حالت سره خواړه نه خورم. [حديث ۱۳۱ شمائل ترمذي]

خوراک رسول الله ﷺ

ترجمه حدیث: بو جحيفه رضي الله عنه ميگويد که رسول الله ﷺ فرمود:

من با تکبر (تکيه زده/ تکبر يا راحت نشسته) غذا نميخورم. [حديث ۱۳۱ شمائل ترمذي]

(د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

# شتمنی SHTAMANI

تأسيس: ۱۳۹۴ل ل

اوونيزه

زموږ ماليه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

ربيع الاول ۲۰ -۱٤٤٧ل س | د وږي ۲۲ -۱٤۰٤ل ل | د سپتمبر ۱۳-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱٤۹ گڼه | ٤ مخیزه | ۱


## سرمقاله

### چشم‌انداز توسعه زیرساخت‌ها و منابع طبیعی در افغانستان

زیرساخت ها و منابع طبیعی به عنوان دو مؤلفه کلیدی در توسعه اقتصادی هر کشور مطرح هستند. به ویژه در کشورهایی مانند افغانستان که هنوز در مراحل ابتدایی رشد و توسعه قرار دارند، این دو عنصر نقش حیاتی در بهبود کیفیت زندگی مردم و پیشرفت اقتصادی ایفا می‌کنند. بهبود زیرساخت‌های حمل و نقل، دسترسی به بازارها و خدمات را تسهیل می‌کند و به کاهش هزینه‌های تجاری کمک می‌کند. پروژه‌های ترمیم و بهسازی جاده‌ها می‌توانند به افزایش تجارت داخلی و خارجی کمک کنند. وجود زیرساخت‌های مناسب، سرمایه‌گذاران را به سرمایه‌گذاری در پروژه‌های مختلف ترغیب می‌کند. از سوی دیگر منابع طبیعی، به ویژه در بخش زراعت و معدن، پایه‌گذار اصلی معیشت بسیاری از خانواده‌ها هستند. احیای باغ‌ها و جنگل‌ها می‌تواند به افزایش درآمد زراعت و تقویت امنیت غذایی کمک کند. استخراج و صادرات مواد معدنی و محصولات زراعتی، می‌تواند به افزایش درآمد ملی و تقویت ارز کشور منجر شود. همکاری با نهادهای بین‌المللی برای بهبود بهره‌وری در این بخش‌ها، می‌تواند فرصت‌های جدیدی را ایجاد کند. امارت اسلامی افغانستان تلاش‌های قابل توجهی در راستای توسعه زیرساخت‌ها و منابع طبیعی انجام داده است که می توان از شروع برنامه ترمیم سرک بلخ-دولت آباد گام مهمی در راستای بهبود حمل و نقل و دسترسی به خدمات عمومی یاد نمود. این پروژه نه تنها به تسهیل رفت و آمد مردم کمک می‌کند بلکه به رونق اقتصادی مناطق اطراف نیز می‌انجامد. از سوی دیگر، اقداماتی نظیر بازسازی بیش از هزار هکتار جنگل در نورستان و احیای (۱۷۰) هکتار باغ پسته در بادغیس، نشان‌دهنده تلاش‌های جدی برای حفظ و توسعه منابع طبیعی کشور است. همکاری با نهادهای بین‌المللی مانند (فائو) در این زمینه، می‌تواند به افزایش تولید و بهبود معیشت زارعین کمک کند. در حوزه انرژی، مذاکرات و تفاهم‌نامه‌های اخیر بین شرکت برشنا و سرمایه‌گذاران برای تولید بیش از نه هزار مگاوات برق، نویدبخش آینده‌ای روشن‌تر برای تامین انرژی کشور است. همچنین، مسئولین امارت اسلامی خواهان همکاری منطقه ای در توسعه سکتور انرژی، به‌ویژه در پروژه‌های مشترک با ترکمنستان می باشد که این امر می‌تواند به تقویت زیرساخت‌های انرژی و توسعه پایدار منجر شود. در نهایت، با توجه به این تحولات، امید می‌رود که افغانستان بتواند با استفاده از منابع طبیعی و بهبود زیرساخت‌ها، به سمت توسعه پایدار و رفاه اجتماعی حرکت کند. روابط مثبت بین‌المللی و محلی، کلید موفقیت در این مسیر خواهد بود.

**با احترام**

**اداره**

## د افغانستان د کانونو د صادراتي توکو بهير برېښنايي سو






د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د کانونو د صادراتي توکو د بهير له پاره د اسيکوډا په سيستم کي نوی ماډيول جوړ او د کانونو او پيټروليم وزارت له سيستم سره ئې وصل کړ. د کانونو د صادراتي توکو بهير تر دې وړاندي په فزيکي ډول ترسره کېده، چي اوس مهال به په برېښنايي او معياري ډول د اسيکوډا سيستم له لاري تر سره کېږي. د دغي پروسې برېښنايي کېدل به د کانونو د صادراتي توکو په بهير کي لا روڼتيا رامنځته او د اړوندو چارو د چټکتيا ترڅنگ به د صادروونکو له پاره گڼي اسانتياوي هم ولري. هغه مهال چي د کانونو د صادراتي توکو بهير په فزيکي ډول ترسره کېده؛ د موادو په وزن، بيې، تعرفوي کوډ او صادروونکي شرکت باندي پوره کنټرول نه کېده، چي له دې وروسته ئې ټول پړاوونه تر څار لاندي او د سيستم له لاري به ترسره کېږي.

## په تېرو دوو اونيو کي د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي زياته اندازه قاچاقي توکي نيول سوي دي

د گمرکونو لوی رياست د گرځنده څارني کارکوونکو په تېرو دوو اوونيو کي د ننگرهار، هرات، کندهار، نيمروز، فراه او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له گمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته وارد کړي. په نيول سويو توکو کي (۵۷۸۱) کيلوگرامه انساني او زراعتي درمل، (۹۷۹۰) کيلوگرامه شامپو او د مخ کريم، (۲٦۷۰۰) کيلوگرامه ملايي، (٦۸۰۰) کيلو گرامه مالگه، (۱۷۳۴) کيلوگرامه پنير، (۲۵۵۰) کيلو گرامه وچي شيدې، (۲۰۰۰) کيلوگرامه د ماشومانو ډايپرز، (۲۴۴۴) کيلوگرامه بوتلي کورت، (۱۹۹۰) کيلوگرامه چيني لوښي، (۱۱۱۳) کيلوگرامه د چلم مېوه، (۸۲۲) کيلوگرامه چاکلېټ، (٦۰۰) کيلوگرامه ککاو، (۲۳۵۸) کيلوگرامه نخي تار (۴۲۰۰) کيلو گرامه پوښ لرونکی سيم، (۱۱۸۳) کيلوگرامه کاشي، (٦۰۰) کيلوگرامه واسلين، (۵۳۴) کيلوگرامه کشک، (۸۸۲) کيلوگرامه د مزايکو پوډري رنگ، (۱۲۴۲) کيلوگرامه د تينر مواد، (٦۹۷) کيلوگرامه د ماشومانو د لوبو اسباب، (۵۲۹) کيلوگرامه د جوس پايپونه، (۴۸۰) کيلوگرامه رُب، (۳۵۰) کيلوگرامه پلاسټيکي خالي بوجی، (۷٦۵) کيلو گرامه د روح افزا شربت، (۳۴۰) کيلوگرامه بنجاره باب، (۳۸۰) کيلوگرامه پلاسټيکي پايپونه، (۲۹۴) کيلوگرامه خالي بوتلونه، (۴۹۵) کيلو گرامه د لوښو وينځلو مايع، (۱٦۰) کيلوگرامه د غاښونو کريم، (۱۰۰) کيلوگرامه نوې البسه (۱۰۰) کيلوگرامه صابون او (۷۴) کيلوگرامه پلاسټيکي تار شامل دئ. دغه توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.



## د اسلام کلا په سرحدي گمرک کي يوه اندازه تاريخ تېر خوراکي او غير خوراکي توکي وسوځول سول



د هرات ولايت د اسلام کلا په سرحدي گمرک کي له ولايتي ادارو سره په همغږۍ(۱۲٦،۷) ټنه تاريخ تېر خوراکي او غير خوراکي توکي، چي د ياد گمرک په هنگرونو کي موجود ول، د اړوندو ادارو د با صلاحيته استازو په حضور کي وسوځول سول. همدارنگه (۹٦) ټنه تاريخ تېره کرنيزه خاوره، چي پخوا ياد گمرک ته راوړل سوې وه هم له منځه يوړل سوه. د يادولو ده، چي د دغو توکو يوه اندازه ئې په قاچاقي ډول هيواد ته راوړل سوې او يوه اندازه ئې له بهرنيو هيوادونو څخه تاريخ تېر را وارده سوې وه، چي د گمرک په هنگرونو کي موجوده وه.



د گمرکونو او عوايدو معينيت د اړوندو رياستونو ترمنځ د همغږۍ په ناسته کي پر مهمو موضوعاتو خبري وسوې

م ۲




د کورنۍ پلټني لوی رئيس او مل پلاوي د هيواد شمالي ولايتونو ته سفر وکړ

م ۲



د گمرکونو لوی رياست اتمه اداري ناسته وسوه

م ۳



د کيفيت کنټرول رياست کارکوونکو له پاره د کيفيت کنټرول مسلکي کولو روزنيز پروگرام پيل سو

م ۳



اغېزناکه رهبري(Effective Leadership)

م ۲




قيرغيزستان د «کاسا ـ ۱۰۰۰» انرژۍ پروژې له پاره د «اروپايي پانگوني بانک» تمويل مثبت و ارزاوه

م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

# د ګمرکونو او عوايدو معينيت د اړوندو رياستونو ترمنځ د همغږۍ په ناسته کې پر مهمو موضوعاتو خبري وسوې

د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ، د ګمرکونو او عوايدو معينيت د اړوندو رياستونو ترمنځ د (۱۴۰۴) کال د همغږۍ شپږمه ناسته د دغه معينيت د غونډو په تالار کي وسوه.

په دې ناسته کې، چې د اړوندو رياستونو مسئولينو ګډون کړی وو، په پيل کې د ګمرکونو او عوايدو معين خبري وکړې او وئې ويل، چې د مسئولينو د صادقانه هڅو په پايله کې ملي عوايد ورځ تر بلې د ښه کېدو په حال کې دي او په چارو کې لازمه همغږي رامنځته سوې




ده. همداشان نوموړي په ځينو برخو کي مسئولينو ته لازمي سپارښتني هم وکړې. ورپسې د کارګو شرکتونو د بررسۍ او مالياتو د ورکړې پر څرنګوالي، صنعتي فابريکو ته د دوه سلني انتفاعي ماليې د ورکړې او په ځينو ادارو کې د غير مالياتي عوايدو د سيستمي کولو په اړه د تاکل سويو پلاوو راپورونه وړاندي سول، چې په اړه ئې تر هر اړخيز بحث وروسته لازمي پرېکړي وسوې.

همدارنګه په دې ناسته کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) له حکم سره سم د جوازونو د ورکړې له پاره د ځانګړو تګلارو پر جوړېدو، په خپل وخت د کورنۍ پلټني د پلټنو د پايلو او سپارښتنو پر پلي کېدو او يو شمېر نورو موضوعاتو خبري او لازمي پرېکړي وسوې.

## د ګمرکونو لوی رياست اتمه اداري ناسته وسوه

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رئيس الحاج مولوي محمد حامد احمد په مشرۍ، د ګمرکونو لوی رياست د (۱۴۰۴) کال اتمه اداري ناسته په دغه رياست کي وسوه.

د ناستي ګډونوال؛ د ګمرکونو لوی رياست تخنيکي او عملياتي مرستيالان، رئيسان او يو شمېر آمرين ول، چې د ګمرکي عوايدو په لا زياتولو، د هيواد په ګمرکونو کي د درملو د ساتني له پاره د مناسبو ځايونو پر جوړولو، د صادراتي، وارداتي او ټرانزيټي توکو په ګمرکي طی مراحلو کي پر سته ستونزو او حل لارو، د يو شمېر سوداګريزو شرکتونو او صنعتکارانو د غوښتنو او ستونزو پر حلولو، د ياد رياست د مرکزي او ولايتي ادارو د ورځنيو چارو په لا ښه کولو، د هيواد په ګمرکونو کي د سوداګريزو توکو د طی مراحلو پر چټکولو او يو شمېر نورو موضوعاتو په تړاو بحث او لازمي پرېکړي وکړې.

همداشان په دې ناسته کي د چنګاښ او زمري په مياشتو کي د خطر د کمېټو راپور هم د ناستي ګډونوالو ته ور واورول سو.

# د کورنۍ پلټني لوی رئيس او مل پلاوي د هيواد شمالي ولايتونو ته سفر وکړ

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئيس الحاج ملا عبدالهادي ابرار په مشرۍ د دې رياست پلاوي، د چارو د کتني او ارزوني په موخه د سمنګان، بغلان، بلخ، کندوز، تخار او بدخشان ولايتونو له مستوفيتونو او همدارنګه د بلخ، کندوز، تخار او بدخشان ولايتونو له ګمرکونو څخه ليدنه وکړه او د يادو ولايتونو له مستوفيانو، د ګمرکونو له مسئولينو او همداراز د دغو ادارو له کارکوونکو سره ئې په جلا ناستو کي وليدل.

د کورنۍ پلټني لوی رئيس د يادو ادارو له مسئولينو او کارکوونکو سره په ليدنو کي د چارو د روڼتيا او همدارنګه د پلټني د ارزښت په اړه خبري وکړې. نوموړي؛ د دغو ادارو له کارکوونکو څخه وغوښتل، چې ورسپارل سوي چاري په خورا اخلاص او امانتدارۍ سرته ورسوي.

ښاغلي ابرار او مل پلاوي د تېرو پلټنو په لړ کي د پلټونکو له لوري د ورکړل سويو اصلاحي سپارښتنو تطبيق هم تعقيب کړ، چې له نېکه مرغه يادو ادارو ډېری سپارښتني تطبيق کړي وې او د پاتي سپارښتنو د ژر پلي کېدو ژمنه ئې وکړه.

د يادوني وړ ده، چې د ذکر سويو ولايتونو ګمرکونو او مستوفيتونو اړوندي چاري په شفاف ډول له ولايتي ادارو سره په بشپړه همغږۍ رواني وې.

په پای کي د کورنۍ پلټني لوی رئيس د دغو ادارو د مسئولينو او کارکوونکو ستونزي او غوښتني واورېدې، چې د ښې رسېدني په موخه به ئې د وزارت له مقام سره شريکي کړي.




## د ابونصر فراهي، نيمروز او هرات ګمرکونو کارکوونکو له پاره دوهم روزنيز پروګرام پای ته ورسېد

د ماليې وزارت د عوايدو او ګمرکونو ملي اکاډمۍ له تدريسي پلان سره سم؛ د فراه، نيمروز او هرات ولايت ګمرکونو (۳۰) تنو کارکوونکو له پاره يو مياشتنی روزنيز پروګرام پای ته ورسېد.

د دې روزنيز پروګرام په ترڅ کي ګډونوالو ته ګمرکي قوانين، ګمرکي طرزالعملونه، د ګمرك د بېلابېلو برخو د دندو لوايح، اظهارليکونه او (T۱) فورمونو، ګمرکي پروسې، د ګمرکي محصول سنجونه او نور اړين موضوعات په بشپړ ډول تشريح او تدريس سول.

د يادوني ده، چې د دغو پروګرامونو په ترسراوي سره به د يادو ګمرکونو د کارکوونکو وړتياوي لوړې او کاري پروسو کي به د پام وړ روڼتيا او پرمختګونه رامنځته سي.

# د کيفيت کنټرول رياست کارکوونکو له پاره د کيفيت کنټرول مسلکي کولو روزنيز پروګرام پيل سو

د ماليې وزارت د کارکوونکو چارو رياست د عوايدو او ګمرکونو معينيت د کيفيت کنټرول رياست کارکوونکو له پاره د کيفيت کنټرول مسلکي کولو تر سرليک لاندي روزنيز پروګرام ترسره کړ.

په همدې مناسبت جوړه سوې غونډه، چې د عوايدو او ګمرکونو ملي اکاډمۍ د کنفرانسونو په تالار کي جوړه سوې وه، د دعوت او ارشاد رئيس مولوي عبدالهادي سيف الخالد، د روزني او ظرفيت لوړولو آمر مفتي عبدالوهاب عابد او د کيفيت د کنټرول آمر مولوي مطيع الله پکښې ګډون کړی وو.

د کارکوونکو چارو رياست د روزني او ظرفيت لوړولو آمر د پروګرام په پرانيستې وينا کي وويل، چې د نفتي موادو د کيفيت کنټرول له ډېر اهميت څخه برخمن دئ، چې د ککړتيا يا زهرجنو موادو د خپرېدو د خطرونو په کمولو کي خورا اغېزمن تماميږي او د صنعتي




تجهيزاتو ګټه اخيستنه زياتوي؛ نو له همدې کبله د نفتي موادو لابراتوارونو کيفيت ښه کولو په موخه له دې پروګرام څخه بشپړه ګټه پورته کړئ.

د کيفيت کنټرول آمر په خپلو خبرو کي وويل، چې دا پروګرام د لابراتوار په ځانګه کي د مسلکي کسانو د پوهي او مهارتونو د لا پياوړتيا له پاره پيل سوی دئ او د نفتي مواد د لابراتوارونو د کيفيت کنټرول، شفافيت ډاډمنولو او دقيقي څارني په برخه کي مهم رول لري. نوموړي له ګډونوالو وغوښتل؛ ترڅو له دې ارزښتناك فرصت څخه د پوهي د تر لاسه کولو په موخه ګټه پورته کړي او په عملي توګه ئې په خپل کار ځای کي پلي کړي.

د دعوت او ارشاد رئيس ګډونوالو ته وويل، سره له دې چې له دې پروګرام څخه د معياري کولو په موخه ګټه پورته کوئ، تاسو بايد اسلامي ارزښتونه؛ لکه: عدالت، د نورو حقونو ته درناوی، صداقت، رحم او مهرباني، د اړمنو ملاتړ، تقوا او پرهېزګاري، پيوستون او همکاري هم مراعت کړئ.

د يادوني وړ ده، چې دا پروګرام (۱۷) ورځي دوام کوي او ګډونوالو ته د تېلو او ګازو مباني، د کيفيت کنټرول اصول او مفکورې، د ازمويني تجزيې او تحليل مېتودونه، د کيفيت ښه کولو مېتودونو بررسي او نور اړوند او اړين موارد تدريس کېږي.

## د آقينې سرحدي او کندهار ګمرکونو کارکوونکو ته جوړ سوي روزنيز پروګرامونه پای ته ورسېدل

د ماليې وزارت د ګمروکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له تدريسي پلان سره سم د آقينې او کندهار ګمرکونو (۷۸) تنو ګډونوالو ته يو مياشتني جوړ سوي روزنيز پروګرامونه پای ته ورسېدل.

د دغو روزنيزو پروګرامونو په لړ کي ګډونوالو ته ګمرکي قوانين، ګمرکي طرزالعملونه، ګمرکي فورمونه او تشريح ئې په عملي او نظري بڼه د مجربو ښوونکو له لوري تدريس سول.

د يادوني ده، چې د دغه پروګرامونو په ترسراوي سره به د يادو ګمرکونو د کارکوونکو وړتياوي لوړې او کاري پروسو کي به د پام وړ روڼتيا او پرمختګونه رامنځته سي.

# تېره (۱) اوونۍ د قاچاقو حال...

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د ګرځنده څارني کارکوونکو په تېري يوې اوونۍ کي د هرات، کندهار، نيمروز، فراه او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي.

په نيول سويو توکو کي (۳۱۵۰) کيلو ګرامه چاکلېټ، (۳۸۷۵) کيلو ګرامه انساني طبي درمل، (۶۹) کيلو ګرامه زراعتي درمل، (۲۵۹۰) کيلو ګرامه مالګه، (۱۶۶۰) کيلو ګرامه پنير، (۹۵۰۰) کيلو ګرامه د ويلډينګ سيخ، (۱۸۵۰) کيلو ګرامه د خياطۍ ماشين تېل، (۲۸۸) کيلو ګرامه چلم، (۱۰۰) کيلو ګرامه پلاستيکي کڅوړې، (۲۴۶۴) کيلو ګرامه رُب، (۱۹۷۳) کيلو ګرامه ملايي، (۳۳۷) کيلو ګرامه د پلاستيکي بوتلونو پوښ، (۴۹۴) کيلو ګرامه لواشك او (۴۶) عدده غالۍ شاملي دي.

نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.

د يادوني وړ ده، چې د ماليې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کي ګرځنده څارنه کوي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چې ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.





شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

# اغېزناکه رهبري
# (Effective Leadership)



عبدالجبار وحدت
د ملي بودیجې لوی رئیس

د رهبرۍ لـه نـوم سره تـاسي ټـول بلـد یاسـت، چـي رهـبري اغېـز شـیندل، کاریزمـا، الهـام بخښـل او خلک سـم او مناسب لـور تـه سـوق کولـو تـه وایـي. د رهـبرۍ ډېـر زیـات ډولونـه لـرو او هـر یـو ډول ئـې حالاتـو، اوضـاع او د خلکـو پوهـي تـه پـه کتـو خپـلي ګټـي او جانبـي عـوارض لـري. پـه ځینـو برخـو کـي مشـارکتي، پـه ځینـو برخـو کـي دیکتاتـوري، پـه ځینـو برخـو کـي ډیموکراتیکـه رهـبري د پـام وړ پایلـه ورکـوي. بنـاءً (Effective Leadership) هغـه رهـبري ده، چـي وګـړي او منابـع پـه اغېزمـن ډول رهـبري کـوي او مشـخص اهـداف تعقیبـوي. دلتـه بحـث تـر ډېـره تطبیقـي دئ، ځینـي د خپـل ماموریـت تجربـې هـم درسره شریکـوم. پـه دې لیکنـه کـي د اغېزناکـي رهـبرۍ پـر ځینـو ځانګړنـو بانـدي لنـډ بحث کـوو. هیلـه لـرو، چـي د هیـواد ځـوان نسـل کـه پـه هـره اداره کـي پـه دنـده بوخـت وي یـادي ځانګـړني د خپـلي رهـبرۍ پـه کاري چـوکاټ کـي مدنظـر ونیـسي

### اغېزناکه رهبري باید علمي وي:

د اغېزناکـي رهـبرۍ غـوره ځانګړنـه دا ده، چـي بایـد علمـي اوسي، ټـول تصامیـم علمـي وي او لـه علمـي روښـونو څخـه ګټـه پورتـه سي.

### روښانه او لوړ لرلید:

یـو ښـه رهـبر او په یوه ښـه رهبري کـي باید روښـانه لید موجود وي، اهـداف بایـد مشـخص وي؛ مثـلاً: زه غـواړم د هیـواد ملي بودیجـه پـه سـم ډول مدیریـت کـړم دلتـه هـدف واضـح سـو .

### روښانه پلان درلودل:

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي کارونـه پلانیـز کارول پـه کار دي؛ ترڅـو چـي د پـلان پـه اسـاس چـاري پـر مـخ ولاړي نـه سي تـر هغـه وختـه مـوږ هـدف تـه نـه سـو رسـېدلای، چـي هـدف تـر لاسـه نـه سـو، سـمه رهـبري ئـې نـه سـو بلـلای. بنـاً پـه اغېزناکـه رهـبري کـي پـلان نهایـت مهـم دئ.

### د مؤثري مفاهمې درلودل:

پـه اغېزناکه رهبري کي د مفهامې او ارتباطاتو بحث ډېر مهم دئ، مفاهمـه نهایـت بنسـتیز څیـز دئ، په رهبري کـي بایـد ارتباطاتو، غوږنیـوني او دې تـه ورتـه مـواردو تـه جـدي پاملرنـه وسي.

### منطقي تصمیم نیونه:

په اغېزناکـه رهبري کـي پـر خپـل وخـت مناسـبه تصمیـم نیونـه ډېـره مهمـه ده، پـه سـتراتیژیک مدیریـت کـي د تصمیـم نیـوني یـو مهـم بحـث مطـرح کېږي او پـه تصمیـم نیونـه کـي بې ځایه تلـوار او بـې ځایـه ځنډ دواړه تـاواني دي. بایـد د معلوماتـو او دقیقـي ډاټـا پـه اسـاس مناسـب عقـلاني تصمیمونـه ونیـول سي. ټیـم جوړونـه: پـه اغېزناکـه رهـبري کـي پـه ټیـم جوړولـو بانـدي تاکیـد کېـږي؛ ځکـه کارونـه په ټیمي شـکل پـر مـخ وړل کېږي، ډېرې وخـت انفـرادي کارونـه هیـڅ درسـته نتیجـه نـه ورکـوي.

### ستراتیژیک فکر درلودل

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي د اوږدمهالـه فکـر او ثبـات فکـر ډېـر مهـم دئ، پـه رهـبري کـي بایـد یـوازي نـن ورځ مدنظـر و نـه نیسـو د یـوه سـازمان ډېـر اوږد عمـر بایـد مـد نظـر ونیـول سي. د لنـډ مهالـه او اوږدمهالـه افـکارو تـر منـځ تعـادل سـاتل مهـم دي، همدارنګـه د چاپېریـال تحلیـل، فرصتونـه پېژنـدل او مناسـب پـلان جـوړول مهـم بحثونـه دي .



### عادلانه برخورد:

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي عادلانـه برخـورد ډېـر مهـم دئ،کـه ځینـي چـال چلندونـه د شـخصي عقـدې پـه اسـاس تـرسره سي، مؤثـره رهـبري ئـې نـه سـو بلـلای.

### د احترام د فضاء حاکمیت:

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي د متقابـل احـترام فضـا حاکمـه وي او د متقابلـې فضـا حاکمیـت د رهـبرۍ مؤثریـت زیاتـوي.

### نفوذ درلودل:

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي د نفـوذ بحـث ډېـر مهـم دئ، مثبـت نفـوذ درلـودل د رهـبرۍ ډېـره مثبتـه ځانګړنـه ده.

### ثبات درلودل:

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي د ثبـات بحـث ډېـر مهـم دئ، مثـلاً یـو تصمیـم نیـول کېـږي داسي نـه وي، چـي سـبا لـه هغـې خـبري بیرتـه پـه شـا سي، یـا نـن پـه اداره کـي ښـه وضعیـت وي، مګـر نـږدې راتلونکـي کـي دا وضعیـت خـراب سي، مهـم ئـې دوام او ثبـات دئ.

### انګیزه ورکول:

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي د الهـام ورکولـو بحـث ډېـر مهـم دئ، ډېـرې وخـت د غیـر الهـام ورکولـو پـه حالـت کـي د کار خلـک زړه مـاتي سي، علـت ئـې همـدا وي. بنـاً اړتیـا ده، چـي انګېـزه ماتحتـو تـه ورکـړل سي.

### انعطاف قبلول:

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي انعطـاف ډېـر مهـم دئ، لـه حالاتـو او بدلونونـو سره پـه ځینـو سـتراتیژیو، پالیسـیو او تصمیمونـو کـي معقـول انعطـاف یقینـاً ډېـر مهـم دئ.

### جرئت :

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي د جرئـت مندانـه کړنـو بحث یـو مهـم اصـل دئ، دا د ارواپوهنـي یـو بحـث هـم دئ، چـي مشـکوک بایـد و نـه اوسـې، مطلـق هـو او نـه بایـد معلـوم سي، ډېـرى رهـبران تـاسي ووینـئ کاري جرئـت نـه لـري، هـم ئـې چـاري ځنډېـږي او هـم د رهـبرۍ اغېـز هلتـه کـم وي. یـوه خـبره ډېـره مشـهوره ده؛ کـه څـه هـم ممکـن علمـي نـه وي، مګـر د اغېزناکـي او جرئـت مندانـه رهـبرۍ څرګندویـي کـوي، وایـي د سـلو زمریانـو مـشري، چـي یـو پسـه کـوي، د دې پـه نسـبت دا ډېـره ښـه ده، چـي د سـلو پسـونو رهـبري یـو زمـری وکـړي.

### حساب ورکونه:

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي د حسـاب ورکـوني بحـث ډېـر مهـم دئ، ځکـه پـه دې رهـبرۍ او سـازمان بانـدي د ولـس بـاور رامنځتـه کېـږي او پـه پایلـه کـي کاریزمـا ورسره زیاتېـږي.

### زده کړه ییز چاپېریال

پـه اغېزناکـه رهـبري کـي علمـي او د زده کـړي چاپېریـال ډېـر مهـم دئ، هلتـه بایـد نوښـتونو او نویـو زده کـړو تـه پـه پراخـه کچـه زمینـه سـازي وسي. اورېدونکـې فضـا: پـه اغېزناکـه رهـبري کـي باید یـوه اورېدونکې فضـا وي، د مراجعینـو او خپلـو داخلي کارمندانـو نظرونـه بایـد واورېـدل سي، ترڅـو یـوه ښـه او مطلوبـه پایلـه تـر لاسـه سي.

# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیـه امـارت اسـلامی افغانسـتان از تمـام داوطلبـان واجـد شرایـط دعـوت مـی نمایـد تـا در داوطلبـی پـروژه اعـمار تحویلخانـه، تشـناب هـا و پارکینگ وسـایط بـرای مستوفیت ولایـت ارزګان دارای نمبر تشـخیصه ۲۳٦٤-NCB/W/١٤٠٤/MOF کـه بـه روش داوطلبـی بـاز داخلـی صـورت مـی گیـرد اشـتراک نمـوده و شرطنامـه را به لسـان دری وپشـتو از آدرس ذیـل مطابـق شرایـط شرطنامـه، قانـون و طرزالعمـل تـدارکات عامـه اجـراء مـی گـردد بدسـت آرنـد. تاریـخ جلسـه قبـل از داوطلبـی: ۲۵/ سـنبله/۱٤٠٤ سـاعت: ۱۰:۰۰ قبـل از ظهـر تاریـخ مشـخص آفرګشـایی: ۰۷/ میـزان/۱٤٠٤ سـاعت ۱۰:۰۰ قبـل ازظهـر مـکان: آدرس: پشتونسـتان وات- وزارت مالیـه- کابـل- افغانسـتان منـزل و شـماره اطـاق: منـزل دوم تعمیـر معینیـت اداری، شـعبه آفرګشـایی تضمیـن آفـر مبلـغ: { ۳۰،۰۰۰سـی هـزار افغانـی } بـوده و صرف تضمیـن بانکـی قابـل قبـول میباشـد.
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیـه امـارت اسـلامی افغانسـتان از تمـام داوطلبـان واجـد شرایـط دعـوت مینمایـد تـا در داوطلبـی پـروژه تهیـه و تـدارک پـرزه جـات بـرای وسـایط وزارت مالیـه دارای نمـبر تشـخیصه ١٤٠٤/MOF/ ۲۳۷۷-NCB/G کـه بـه روش داوطلبـی بـاز داخلـی صـورت میگیـرد اشـتراک نمـوده و شرطنامـه را بـه لسـان دری وپشـتو از آدرس ذیـل مطابـق شرایـط شرطنامـه، قانـون و طرزالعمـل تـدارکات عامـه اجـراء میگـردد بدسـت آرنـد. تاریـخ جلسـه قبـل از داوطلبـی: ۲۹/ سـنبله/۱٤٠٤ سـاعت: ۱۰:۰۰ قبـل از ظهـر تاریـخ مشـخص آفرګشـایی: ۰۹/ میـزان/۱٤٠٤ سـاعت ۲:۰۰ بعـد ازظهـر مـکان: آدرس: پشتونسـتان وات- وزارت مالیـه- کابـل- افغانسـتان منـزل و شـماره اطـاق: منـزل دوم تعمیـر معینیـت اداری، شـعبه آفرګشـایی تضمیـن آفـر مبلـغ: {۳۵۰،۰۰۰ سـه صـدو پنجـاه هـزار افغانـی } بـوده و صرف تضمیـن بانکـی قابـل قبـول میباشـد آدرس: سـایت رسـمی اداره تـدارکات ملـی (https://tenders.ageops.af)، ریاسـت محـترم عمومـی اداره امـور ا.ا.ا شـماره تمـاس دفـتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

## اعلان داوطلبی

اعـلان داوطلبـی (۳) بـاب دوکان واقـع ناحیـه شـانزدهم شـهر کابـل. ریاست عمومـی املاک دولتـی وزارت مالیـه سه بـاب دوکاکیـن ذیـل واقع سـمت جنـوب نسـاجی بګرامـی جـوار سرک عمومـی را بـه شـکل آفـر سر بسـته بـه طـور جداګانـه بـه اعـلان داوطلبـی مـی سـپارد، مـدت (۲) سـال .
۱.یکبـاب دوکان نمـبر ١٦بمسـاحت ۴۱.۷٦ مـتر مربـع واقـع سـمت دروازه نسـاجی بګرامـی جـوار سرک عمومـی مربـوط ناحیـه ١٦شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (۱۰۰۰۰) افغانـی
۲ .یـک بـاب دوکان نمـبر۷ بـه مسـاحت ۳۹.۴۴ مـتر مربـع واقـع سـمت دروازه نسـاجی بګرامـی جـوار سرکـت عمومـی مربـوط ناحیـه ١٦شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (۱۱۰۰۰) افغانـی
۳ یـک بـاب دوکان نمـبر٦ بـه مسـاحت ۳۹.۴۴ مـتر مربـع واقـع سـمت دروازه نسـاجی بګرامـی جـوار سرک عمومـی مربـوط ناحیـه ١٦شـهر کابـل بـه کرایـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ (۱۱۰۰۰) افغانـی کوردینـات (جـی پـی اس نمـبر) ۳٤,٥٠٣٧٣٢٦٦ ٦٩,٢٤٧٢٥٥٤٩ اشـخاص حقیقـی و حکمـی کـه خواهـان بـه کرایـه ګرفـتن دوکاکیـن فـوق را داشـته باشـند میتواننـد در خواسـت هـای شـان را از تاریـخ۱۸/ سـنبله / ۱۴۰۴ الـی۲۴/ سـنبله / ۱۴۰۴) بـه مـدت (۷) روز بـه ریاسـت عمومـی امـلاک امارتـی واقـع منـزل چهـارم تعمیـر١٤ منزلـه سـینمای پامیـر تسـلیم نمـوده شرطنامـه را اخـذ نماینـد.
آدرس :سینما پامیرتعمیر۱۴منزله ،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.
شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷) .
تاریخ مجلس داوطلبی ۲۵/ سنبله /۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر برګزار میګردد

## اعلان داوطلبی

د مالیـې وزارت د امارتـی املاکـو لـوی ریاسـت غـواړي چـې د کابـل ښـار پـه پنځمـه (۵) ناحیـه کـې یـو (۱) امـارتي جایـداد د ابـوذر غفـاری سـوادګریز او هسـتوګنیز مارکیټ مشـهور دی او مسـاحت یـې (۸۱۸۴) اتـه زره یوسـل څلـور اتیـا مـتر مربـع دی د پانګونـې پـه موخـه دعامـه او خصوصـې مشـارکت پـه اسـاس د ازادې داوطلبـي لـه لاري اعـلان تـه وسـپاري، د یـاد جایـداد جـي، پـی ایـس کوردینـات (طـول البلـد - ۱۱۷۴۱۳، ٦۹ ) او(عـرض البلـد - ۳٤,٥۱٥۱۳۱) دي، چـي لـه دری (۳) ځمکتلونـو سره حـد اکـثر پـه (۲۳) درویشـت پوړونـو کـې جوړیـږي، ټـول هغـه حقیقـي او حکمـی اشـخاص چـې غـواړي پـر یـاد امـارتي جایـداد پانګونـه وکـړي کـولای شي چـې خپـل غوښـتنلیکونه د اعـلان لـه خپریـدو څخـه وروسـته د (۴۰)څلوېښـت ورځـو پـه مـوده کـې د مالیـې وزارت د امارتـی املاکـو لـوی ریاسـت تـه وسـپاري او شرطپاڼـه د (۵۰۰۰) پنځـه زره افغانیو پـه بـدل کـې ترلاسـه کـړي، آفرخلاصونـه د مالیـې وزارت خیبر د غونـډو پـه تـالار کـې د اعـلان د ختمیـدو تـر نیټـې یـوه ورځ وروسـته پـه ۱۴۰۴/٦/۲۹ هــ ش نیټـه تـرسره کیږي.
د اعلان د خپریدو نیټه: ۱۴۰۴/٦/۱۹ هـ ش.
د اعلان د ختمیدو نیټه: ۱۴۰۴/۷/۲۸ هـ ش.
د اړیکي شمیره: ۰۲۰۲۹۲۴۱٦۴ د واټسپ شمیره: +۹۳۷۹٦۷٥۷۴۸٦
د شرطپاڼي د ترلاسه کولو ځای: د امارتی املاکو لوی ریاست سیناپامیر ۱۴ پوړیزه ودانی، څلورم پوړ، د پلان او پانګونې آمریت.

# شتمني SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
ايکسپانه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)



ربيع الاول ۲۰-۱۴۴۷ل س | د وږي ۲۲-۱۴۰۴ل ل | د سيپتمبر ۱۳-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۴۹ ګڼه | ٤ مخيزه



# MoF Creates New Module in ASYCUDA System for Mining Export Process as Vows for Transparency

The General Directorate of Customs of MoF has created a new module in the system of ASYCUDA (Automated System for Customs Data) for the process of mining export products, and connected it to the system of the Ministry of Mines and Petroleum. The process of mining export products was previously carried out physically, which will now be carried out electronically, and in a standardized manner through the ASYCUDA system. The new module of this e-process will create more transparency in the process of mining export products, and in addition to speeding up related matters, will also have many facilities for exporters. As before the process of mining export products was carried out physically, there was no full control over the weight, price, tariff code and exporting corporation of the materials, which from now on will be monitored and carried out through the system.



# Islam Qala Border Customs Officials Cremate Expired Edibles, Non-food Items






1000

In coordination with provincial authorities, 126.7 tons of expired food and non-food items that were stored in the hangars of the aforementioned customs were burned in the presence of authorized representatives of the relevant authorities at the Islam Qala border customs office in Herat province. In addition, 96 tons of expired agricultural soil that had previously been brought to Islam Qala border customs, were also announced useless. Notably, some of these items were smuggled into Afghanistan, and some have been imported from foreign countries that were present in the hangars of the customs office.




## قیرغیزستان د «کاسا ـ ۱۰۰۰» انرژۍ پروژې له پاره د «اروپايي پانګوني بانک» تمويل مثبت و ارزاوه




د ټرېنډ ـ Trend په نوم اذري خبري اژانس د کاسا ـ ۱۰۰۰ پروژې په اړه تازه راپور خپور کړی دئ. راپور په لومړي سر کې دا ټکی رانقلوي، چې وايي د قيرغيزستان پارلماني کمېټې له اروپايي پانګوني بانک ـ EIB سره د مالي قرارداد د تصويب له پاره يوه لايحه تصويب کړه. لايحه د دې له پاره ده، چې د «منځنۍ اسيا - سوېلي اسيا» د برېښنا لېږد او سوداګرۍ پروژې يا په لنډ ډول (کاسا- ۱۰۰۰) له پاره اضافي تمويل چمتو کړي. د قيرغيزستان د انرژۍ مرستيال وزير التنبېک رستبيکوف ياد اذري اژانس ته ويلي دي، چې: «د دې قانوني مسودې موخه د انرژۍ امنيت پياوړی کول، د برېښنا د سيستم باثباته عمليات ډاډمنول، له اوبيزو سرچينو څخه معقول استعمال، د صادراتو ظرفيت پراخول او د توليد ظرفيت لوړول دي.» ورپسې ئې ليکلي دي، چې د اضافي فنډونو ټولټال اندازه (۹) ميليونه يورو اټکل سوې ده، تر څو د دې ستري پروژې رغنيزي چاري ور باندي پياوړې سي. راپور د وضاحت په نيت زياتوي، چې کاسا ـ ۱۰۰۰ د انرژۍ يوه لويه سيمه ييزه نوښتي پروژه ده، چې د منځنۍ او سوېلي اسيا تر منځ د برېښنا سوداګرۍ د اسانتيا له پاره ډيزاين سوې ده. دا پروژه قيرغيزستان او تاجيکستان ته دا ګټه رسوي، چې د دوبي/ اُوړي له اضافه اوبو څخه توليد سوې برېښنا افغانستان او پاکستان ته صادره کړي او د عايداتي هيوادونو له پاره د عايدو لامل وګرځي.

## د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومې ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

## رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه هميشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱



## د شکايتونو اورېدلو آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريک کړي.
ټيليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰/ ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶ (+۹۳)
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af